

# ژوند دی ناکام ماخستن

Ketabton.com

کال ۱۴۰۳

شاعر: سیداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شاعر: سيداحمد سعادت

## کال:۱۴۰۳ ل

دکتاب پيژندنه

---

---

---

---

---

دکتاب نوم: ژوند دي ناکام ماخستن

شاعر: سيدمحمد سعادت (سيداحمد سعادت)

کال: ۱۴۰۳

وتساف: ۰۷۰۳۷۳۵۷۴۶

بريښناليک: sayedahmadsadaat46@gamil.com

دليکوال شماره: ۰۷۰۰۴۳۵۷۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډالۍ**

**ډالۍ دي وي زما درنو والدينو ته چي زما سره د ژوند په هره برخه کي دريدلي دي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعت

ته محمد يې ته احمد يې ته زما نبی يې

يوازي دانه چی زما يې د دنيا نبی يې

په تا ودانه ده دنيا او مافيها دخالق

ته اوللعظمه پيغمبر يې ته باچا نبی يې

چی زه تر تا سم صدقه نو به ډير کم پاته سم

ته مي واکدار يې ته حقدار يې ته آفتاب نبی يې

موږ د شيطان پر لار روان وو موږ ته بخښه وکړه

ستا شريعت مو فري ايښي ته غمخوار نبی يې

سعادت به وايم ټوله ژوند کي زه پر تا درودونه

ته مرحبا يې ته اعلی يې ته لوړ شان نبی يې

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخستن

ژوند دي ناکام ماخستن

پر سر د دار ماخستن

په نیمه شپه کی دچا

نسته قربان ماخستن

ټوله یوه طرف ته

ستا تور زلفان ماخستن

یخه هوا ده او شمال لګیږی

ستا سینه بام ماخستن

دژوند خوندونه ټوله

ستا سره شونډان ماخستن

ستا دا خوږي خبري

خورم لکه شات ماخستن

ما قتلوي ستا باڼه

تورسي ماران ماخستن

زما دا شوخ بیتونه

جوړ کم پر تا ماخستن



شاعر سیداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د زليخا حسن سينګار په مِکر**

**نه سو بدنام ماختسن**

**لکه بي موره ماشوم**

**تير سي بي تا ماختسن**

**چی نه وي يار په څنګ کي**

**شپه سی عذاب ماختسن**

**ستا په يادونو سعادت**

**تير کي بيګا ماختسن**

**۱۴۰۳/۱/۱۳**

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## محصل

دمحصلۍ دوره مي

وه ليونۍ دوره مي

دهمصنفيانو سره

وه ګلالۍ دوره مي

چا به کيسي کولي

چا مسخري کولي

چابه د ژوند رازونه

چا بيا ګيلۍ کولي

چي امحتانونه به سول

ټولو به يو او بل ته

بيخي حيران غوندي وه

چي به کامياب سو که يا

بيا به يو ځاي سو که يا

د ژوند خوندونه به وي

که يا غمونه به وي

عجبه خوند وو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ژوند مسکن وو هغه**

**تیر سوي وخت مو ټوله**

**تش خاطره پاته سول**

**اوس هغه وخت تیر سوي**

**بل مو کثرت تیر سوی**

**اوس موږ کیسي نه کوو**

**هم مسخري نه کوو**

**د ژوند خواږه رازونه**

**بل بیا ګیلې نه کوو**

**سعادته ورک سول ځیني**

**هغه بیا پټ سول ځیني**

**۱۴۰۳/۱/۱۳**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مچ یې کړم**

**مچ مي کړه بدل غواړي او مچ یې کړم**

**جان پرخنګل سر غواړي او مچ یی کړم**

**ما ورته خپل ژوند ټول مخکي ایښی دي**

**دا د ژوند کتاب غواړي او مچ یې کړم**

**ما ورته زاری او منت وکړلو**

**هغه یا قربان غواړي او مچ یې کړم**

**زه به مي وه مور ته څه جواب وایم**

**یار رانه شونډان غواړي او مچ یې کړم**

**زما سره جامونه خپل د اوښکو دي**

**ګل رانه ګیلاس غواړي او مچ یې کړم**

**زه ورته رخصیږم نڅاګره سوم**

**غم دي بیا نڅا غواړي او مچ یې کړم**

**ته چي رانه ځې نو شاته مه ګوره**

**زړه مي رانه تا غواړي او مچ یی کړم**

**ستا پر نوم مي ډیر درودونه ویلی دي**

**وروسته بیا جانان غواړي او مچ یې کړم**



شاعر سیداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زه به ورته ټول ژوند صدقه کړمه**

**مور مي خپل امساء غواړي او مځ يې کړم**

**زه خو ستا دميني خريدار ومه**

**پلار مي رانه کار غواړي او مځ يې کړم**

**زه ورته غزل او ټپه وايمه**

**حسن دي رباب غواړي او مځ يې کړم**

**ما ورته ډالی په پور اخستې ده**

**سرې شونډې پيزوان غواړي او مځ يې کړم**

**سپينو مړوندو کې يې بنګړي شرنګ کړي**

**بل بيا غوړواليان غواړي او مځ يې کړم**

**خومره شايستې خورې ورې سولې**

**زلفي دي ګلاب غواړي او مځ يې کړم**

**ستا پر زلفو مړ سعادت به ووينې**

**ستا مينه کي دار غواړي او مځ يې کړم**

**۱۴۰۳/۱/۱۹**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انجلۍ

زماسره دي يو ستاسره دوه دده لمن ډکه

کاڼې پر اوريږي په ميدان کي انجلۍ ناسته ده

در پر در ګرځيږي د ملک پر کور يې شپه سوله

هغه د هاوس ښکار کړل ګناه کي انجلۍ ناسته ده

ځاي چي يې په تود وو د فتوا شپيلۍ يې بنده وه

اوس په ګناه موږ سو ګنهکاره انجلۍ ناسته ده

موږ خريداران يو پانګونه پر فحشا کوو

ډمي ته سزا ګورو زندان کي انجلۍ ناسته ده

ته يې دوکاندار زه مشتري او دی دلال صاحب

وروسته به ليلام سي په بازار کي انجلۍ ناسته ده

فريږده سعادته پښتانه پر رواجونو مري

ده ته به څوک نه وايي ښامار تنه انجلۍ ناسته ده

۱۴۰۳/۱/۳۱

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ګوري**

**ماته دروازه کې تر چولو ګوري**

**ما پسي بیماره په کږو ګوري**

**هرڅو چي قیمت وایي دا غاړه ږدي**

**حسن دغلام دخپلیدو ګوري**

**چا ور باندي کوډي جادو کړيدي**

**سمه لیونۍ سوه در نخرو ګوري**

**څنګه به دمیني کیسه پټه کړم**

**ماپسي جاسوسه په کورو ګوري**

**څوک وایې چی تاته به ونه رسم**

**سترګي مي وه خدای ته په لیمو ګوري**

**ستا سعادت به تاته انتظار کوي**

**ته که راځې تاته تر سپیدو ګوري**

**۱۴۰۳/۱/۲۸**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ښوول**

**ژوند راته دغم خبر وښول**

**تا بیا د سیتم خبره وښول**

**ته چي نه راځې یاره**

**سترګو دي چم خبره وښول**

**ته به لا ترڅو دبل کوڅو ته ځې**

**پلار راته د ننګ خبره وښول**

**ژوند تش په خبرو باندي نه کیږي**

**هغه د عمل خبره وښول**

**یو به درته مړ کم بل معیوب ښه دي**

**جنګ خو د ماتم خبره وښول**

**دغه لاره ځې تر منزلو پوري**

**علم د زړه سر خبره وښول**

**نهال چي ږدي نو وخته انتظار پکار**

**دم په ګړی خم خبره وښول**

**هغه دي سعادته پسرلی سو بیا**

**ګل راته ګلرنګ خبره وښول**

**شاعر** **سیداحمد سعادت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

موږ په ژوندون په اور سوځلي خلک

موږ په اورو باندي نور مه سوځوي

اي د غربي نړۍ نازيانو واوري

زموږ وه خاوري ته جنګ مه راولي

تاسو حقوق پر خپل هیواد سمبال کي

فره دی کورونو ته سر مه ځړوي

موږ څه کوريا او سوډان نه يو چی جلاجلا سو

زموږ قومونو کي لاس مه راوهي

سعادته جهل به ورکيږی په ډيوه دعلم

په تور مخونو تياره مه خپروي

۱۴۰۳/۱/۱۱

...



شاعر سیداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لحد

ژوند په انتظار مي ختميدو ته ځي

ساه مي په مرى کي کميدو ته ځي

اوس خو لا ژوندى يم که راځي ياره

وروسته جنازه مي پټيدو ته ځي

څومره په ارمان راڅخه پاته سول

ښېته د لحد مي ايښيدو ته ځي

زما پر مړينې وير غوغا به جوړه وي

غسل ته اوبه مي ايشيدو ته ځي

څوک به يٰس وايي څوک به دعاوي کړي

سپين کفن کي پټ کړم ښخېدو ته ځي

نور به سعادت نه ويني پر دي دنيا

غوښه د جسد يي ورکيدو ته ځي

۱۴۰۳/۱/۱۶

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شکلی

ماته جانان ماته جهان شکلی دي

مځکه خو فرېږده هم آسمان شکلی دي

زه دجانان سره خوشحال یم هیڅ غم نه لرمه

ماته تیاره هم روڼ سهار شکلی دي

دهر سړي سره پخلا یم یو رقیب نه لرم

ماته مسجد ماته رباب شکلی دي

رنګونه راکړي چی تصویر جوړ کړمه

ماته قلم ماته رسام شکلی دي

د سترګو جنګ ووچی سعادت سو مین

ماته وصال ماته زندان شکلی دي

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاموشي

دشپې دا خاموشي وه جانان لره ور وړي

نمونه مې د سترګو وه ګریوان لره ور وړي

سپوږمۍ ته په کتو سم په چورتو نو په فکرونو

دستورو غالمغال مې وه آسمان لره ور وړي

د هیلو ډیوې مړې سوي نور امید پر دنیا نسته

دسترګو زور مې ولید قبرستان لره مې وړي

د ریا تسبح په لاس کې ي ذکر کړي شیخ په مسجد کي

دا کار داسې ښکاریږي ما انکار لره ور وړي

که هر څو دخلاصون لار لټوم تري نه خلاصیږم

د زلفو تور تارونه مې زندان لره ور وړي

آینې ته چې دریږم ستا څهره را په یادیږي

سعادت په غم لړلي ګورستان لره ور وړي

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور څه کوم

ماته دا یو جانان نصیب سه شکلي نور څه کوم

شکلي خو هر بازار کي ډیر دي شکلي نور څه کوم

ماته یې درد پرهر راکړي پر زړګی داغونه

بس دغه یو رقیب مي بسته رقیبان نور څه کوم

بس ته خندیږه خوشحالیږه ژړا ماته فریږده

تش ستا مسکاء ماته هر څه ده مسکاء نور څه کوم

په شپه کي ټوله شپه ویښ ستا وتصویر ته ګورم

نو د تصویر دیدن مي بسته دیدن نور څه کوم

دا آخري ځل ملا قات راسره وکه او بیا ولاړ سه راڅخه

ما خوار سعادت په وصال موړ که وصال نور څه کوم

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو چاته**

**نن و سبا کي د اظهار تمه لرم يو چاته**

**دا يو زړګی لرم هغه ډالی کوم يو چاته**

**زه خو افغان يم خپل وطن باندي مي سر قربان دي**

**سپين کفن نه منم سور کفن سره ورځم يو چاته**

**که مجنون نه يم خو عادت مي دمجنون غوندي دي**

**سترګي مي سري ګريوان شکيدلي به ساتم يو چاته**

**چی څهارپايه باندي می کښيږدي تور لحد ته مي وړي**

**پر زړه خوړلي غشي نه کاږم دا وړم يو چاته**

**سعادته قبر کي نکِر مُنکر ته دا ووايه**

**بس نور مي فريږدي د آميد سره ورځم يو چاته**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وعده

نن یې وعدو پسي وعده وکړه خو پوره یې نه کړل

جانان د بیا را تلو پلمه وکړل خو پوره یی نه کړل

زه می په ژوند کي لکه شمعه پر خپل ځان سوځیږم

پتنگ د ځان ایره کولو فیصله وکړل خو پوره یې نه کړل

نور به یې وران کړو نور بي ونړه وو څه یې کوو

دولت مکتب دخلاصولو فیصله وکړل خو پوره یې نه کړل

ستا دنعارو چیغو بوغارو حوصلې ته سلام

خورکی دځان دجوړولو اراده وکړل خو پوره یې نه کړل

هغه چی ولاړلی سعادته بیا راستون به نسي

جانان د نښې فریښولو اشاره وکړل خو پوره یی نه کړل

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملنګ

سترګي مشال لاس کي ډیوه مړه که راځه ملنګه

جهل سبا سو علم راکړه دروازه ملنګه

جلاد مو ورک کي د زندان دروازې وتړل سوي

اوس پدي ښار کي منصور ګرځي مستانه ملنګه

ما په تیاره کي د رڼا رڼا نارې وهلي

فصل مي واخستي دوه چنده پیمانه ملنګه

ستا وه رخسار ته په کتو سترې سم نه مړیږي

سترګي مي وتړه په یوه توره ټوټه ملنګه

موږ دقصرو او د ماڼۍ په مینه نه پوهیږو

تاسو مو فریږدي پر داخپله کنډواله ملنګه

سعادته راغلي په ښو به درته لار جارو کم

ته راسه وکو څو خبري په داشپه ملنګه

۹/۲/۱۴۰۳

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

مامي جانان لره دا ټول عمر انعام ورکړی

هم مي په غاړه کي د سرو ګلونو هار ورکړی

ما يې د ژوند هر يو مشکل دځان مشکل بللې

مامي په خپله خپل ژوندون لره زندان ورکړی

تا داغيار په لاس دغم داسنګه زيري وکی

ويل چی يار داستا وه مرګ لره پيزوان ورکړی

هم مي ځوانی هم زندګی هم مي خانې وه ولاړل

مامي خپل رب ته ستا په باب کی خپل بيان ورکړی

خدای خبر ماوتا يو ځاي سو که جلا به ګرځو

دا ستا دلاس نښه مي ځان ته يادوګار ورکړی

ساقي د جام پياله به نوره لا ترڅو شړپوي

نن يو زاهد ستا ميخاني لره اخطار ورکړی

دلته قرآن هيڅوک نه اوري د رباب شرنګی وي

سعادته ستا ودي بيان ته يې شعار ورکړی

۱٦/۲/۱۳۹۹

...

شاعر

سيداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غوښتنه**

**اي د آسمان لويه خالقه تازه هم پيداکړم**

**ژوند خو دي راکړي يو جانک هم راکه**

**په ټوله عمر زه بي ياره ګرځيدلي يمه**

**بسته نور ستړي سم رحمٰنه يو صنم هم راکه**

**مجنون ناکام سو په مينه کی مامه زوره وه**

**په کاميابی سره مي لوړ که يو دلبر هم راکه**

**اوس مي ځوانی ده چته متېه ته يې مه ړنګوه**

**په دغه لوي اوږده سفر کي هم سفر هم راکه**

**د فراق دوکې خخه بيريږم مينه نه کومه**

**چي ټوله عمر وفادار وي يو ځيګر هم راکه**

**بي ياره ژوند خو د زندان غوندي دی**

**وه ما سعادت ته دي زندان يو قمر هم راکه**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټپه يزي

زړه مې خوږېږي خبر نه يم

پرځه خوږېږي خبر نه يم

سنګه خوږېږي خبر نه يم

طبيب حيران زما وعلاج ته سو مينه

پر داسي چا باندي مين يم

پر بي وفا باندي مين يم

زه پر آسمان باندي مين يم

نه ورختاي سم نه مي زړه صبر کوينه

يار مي ماشوم دي ياري نه کړي

جار ورته وايم ياري نه کړي

څومره نادان دي ياري نه کړي

ملاتعويض راکه راکه جانان آشنا کومه

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خوب

ماښام مي خوب کي ديوچا سترګو ته ډير وکتل

مُلا ويل ګناه ده ما ګناه کي ورته ډير وکتل

پر صد سړي وم ليونی سوم يو دم

په ليونتوب کی مي ديار سترګو ته ډير وکتل

هغې ويل ورځه بيعقله چی نظر می نه کړي

خمار خمار کي مي د جام سترګو ته ډير وکتل

تر مودو پس سره يو ځای سول يو عاشق و معشوق

نن يو مجنون دخپل ليلا سترګو ته ډير وکتل

پر زړه می درد نه وو په درد سو په ليدو د سعادت

په درد کي ډوب مي د درمان سترګو ته ډير وکتل

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شعر**

**نمرود خو نه يم چی پر سر مي په څپېړو وهی**

**يمه بي وزله او بي وسه شهيد سوي افغان**

**چی مي مورکۍ په کور کي نه وی داسي يم سرگردان**

**لکه بي موره وری چی ورک سي داسي يې فريشان**

**څنگه د راز خبره وه سنگه دي کړله افشاه**

**خپل وو فردي مي دښمنان سول څنگه سولي اغيار**

**د فريشانۍ ژوندون تريږي خوشحالي مو نسته**

**لکه مجنون يمه ستومانه بي مرضه بيمار**

**نن يی راخستي دی لاسونو کي سرونه دچا؟**

**د شريعته مُنکر سويدي دی جاهيله انسان**

**څنگه يی خرڅ کړلې سعادته پر فرديو خلکو**

**د دي هيواد بعضي غولان دي خرڅوي سالاران**

**...**



**شاعر** **سيداحمد سعادت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پوهيږمه زه

دا ناگهانه نابيره چې اغيار سنگه سوي

ددي ترشا دنورو لاس دي پري پوهيږمه زه

چې مې ترشاه کړي لاس وهني دابدرنگه څهري

زه په خبر چې مي وژني پري پوهيږمه زه

دی چې په خپل حسن مغرور سو د خدای خوښه نسوه

دغه مريی ښار کي خرڅيږي پري پوهيږمه زه

دکوه طور دغره سه راوړله دنيل خوبونه

دمصر نيل به کوڅې کيږي پري پوهيږمه زه

چې گناه نه کړي خپل ځان بي گناه ثابت کړي

خود به يوسف زندانی کيږي پري پوهيږمه زه

دسعادت زړه به هلته صبر سی چې يی وغواړي يار

د يار حرم کي ملنگي ده پري پوهيږمه زه

...



شاعر سيداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## انجلۍ

هغې لنډ قامتي شوروي انجلۍ

سنګه یی برباد کړم پیریانې انجلۍ

ما دتورو زلفو تر سایی لاندی دمه نیت وو

لمر سو پر زوال د تورپیکې انجلۍ

ماویل پر دی دنیا می حوره پیدا کړیده

وروسته په خبر سوم جنتې نه دوږخې انجلۍ

خیر دی که دی خوښ نه وم پروا نه وه

کلی دي بیا ولي را خبر کی توتکې انجلۍ

فری ایرده سعادته ځیني ځیني په بلا پسی

هغه ده مغروره دوکه بازه مکتبې انجلۍ



شاعر سیداحمد سعادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه ووایم

پر زړه مي درد دي درته څه ووایم

د نوي یار که د زاړه ووایم

څنګه یې فریښودم یوازي تنها

ستا د راتلو که بیرته تله ووایم

نور له دردونو سره ځم پر بیبان شپې تیروم

له خلکو پټ سم که ښکاره ووایم

نن له کوه قافه څخه راغلي په سیلو کوتري

حیران ودی ته یم چی بله که داغه ووایم

اوس د ګدر پر غاړه ګورم دبنګړو توکرکي

حسن پرست سم که دزړه کور کی دیره ووایم

سعادت دسترګو په خنجر باندی وژلی پروت دی

قاتل یی ټینګ کم که هغه ته مخه ښه ووایم

٦/١/١۴٠٣

...



 

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زور وهي

نن فردی هستی ته خلک زور وهي

یا فردی چوکی ته خلک زور وهي

زمورِ چارواکي فریږده وه ودونو ته

نور بیا بیکاری ته خلک زور وهي

ملاصاحب ته مورا خپله سمباله که

اوس وه مکتبی ته خلک زور وهي

نه غوارم سعادت زه نور ښکلا دهغې

زما سره یاری ته خلک زور وهي

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وسوځوم**

**که ته زما سوي دا جهان به درته وسوځوم**

**جهان خو فریږده دا خپل ځان به درته وسوځوم**

**زما ترسنگ کښینه جانانه چې دي خیال جوړکمه**

**سیالان خو فریږده غمازان به درته وسوځوم**

**که په معنی یی سولي پو دمیني**

**ته به عاشق سي عاشقان به درته وسوځوم**

**سعادته لیکه څه چې لیکي وس یی ولیکه ټول**

**که ته شاعر سوي شاعران به درته وسوځوم**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شعر**

**اوس دسفري په بلاوو باندی نه مږه کيږو**

**نور د فرديو بمبارونو باندی نه ختميږو**

**وهه زورونه چي دي وس څومره وي**

**ولاړ لينګتو باندی نه غوځاريږو**

**دلته چنګيز دی سر خوړلې ګوډ تيمور راغلي**

**دمقدوني په غرغړو باندی موږ نه بيريږو**

**زه دامنم چی د ديواله سره سر جنګول سر ماتوي**

**خو داغيار په ماتولو کی موږ نه خُوريږو**

**دا ستا دشاتو دپيالي څخه د زهرو بوی ځي**

**ژړي غالبوزي ګرځيدو باندی به نه خَوريږو**

**چی څوک راځي تيرو مات سوو سه ړی پوښتنه کوی**

**اوس د اورو آتش بازيو کی موږ نه سوځيږو**

**سعادته مچ يی که سينه پوري يي ټينګ ونيسه**

**وطن موړکی ده وسوسو باندی به نه غوليږو**

**...**

**شاعر** **سيداحمد سعادت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نځیدم

په خاموشه ډم خانه کی نځیدمه

ستا دیاد سره په شپه کی نځیدمه

ته را یاده سولې مړي اوښکي می توي سوي

ته خو نه وی ستا نامه ته نځیدمه

ستا بیلتون وژلی پروت وم ترسهاره

ملنګ نه وو تش قبره ته نځیدمه

میخانه وه ګیلاسونه دجامو وه

ستاخمار ومه هلته نځیدمه

ستا یادو کي مبتلا ومه روان وم

لیونی وم په کوڅه کی نځیدمه

ما ویل یو واري احوال دسعادت ور وړه

ریبار نه وو سپین مرغه ته نځیدمه

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خرآسان

هره لحظه دچا یادو را سره شپه کړیده

غم یی وژلی یمه خلکو تي بهانه کړیده

تول به یي جوړ کړو نور بي نه ورانوو

دجنگه خلاص سو خرآسان تازه دمه کړیده

دمقدسو هیلو لوی کاروان مي وه ځپل سو

خپلو اوړو مي دغم خپله جنازه کړیده

نور بدی هیر کړمه اشنا په ښه غوړو یی واوره

دا ستا سعادت ستا فریښولو فیصله کړیده

...

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طنزیه غزل

عجبه خرونه دی چمونه د آسا نو کوي

ځیني نرسان دی چی عادت د ډاکټرانو کوی

بد بد راګوري چی به څه ټکه لویدلي وی بیا

دا چپړاسیان دي چی خبر د مدیرانو کوي

دی به هم واي چی خر غول وو او خطا می ایستی

بعضي یاران دي مکارت دشیطانانو کوي

وژی به فریوزم خو دسوال لاس چاته نه نیسمه

جسم مي وږي دی هوا بیا دخانانو کوي

سعادته دي هم مین سوی چاته حال نه وایي

ګریوان یی څري کی ناري بیا د غوایانو کوی

...



سیداحمد سعادت
شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه شرمیدئ**

**دخپل جماله څخه نه شرمیدئ**

**دخپل رخساره څخه نه شرمیدئ**

**سنگه دی واړول آسمان وخواته**

**خپلو زلفانو څخه نه شرمیدئ**

**دخلکو زړونه دی پر سره کباب کړل**

**دخلاص گریوانه څخه نه شرمیدئ**

**لابه ترڅو په ناز نواز روان یی**

**دخپل کرداره څخه نه شرمیدئ**

**سنگه دی سترگي په رنجو توري کړي**

**دچا دخوږ زړه د ازاره څخه نه شرمیدئ**

**دا اناري شونډان دی بیا هم سره کړل**

**دسپیني غاړي دسینگاره څخه نه شرمیدئ**

**څنگه دی وترټی سعادت بیچاره**

**دعذابونو دقهاره څخه نه شرمیدئ**

**...**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژړا

نن ته خوشحاله سم که تیر وخت پسي وژاړمه

نوی جانان کمه که یا زوړ پسي وژاړمه

لابه تر څو دخپل ارمان جنازې وړم قبر ته

ده پسي ولاړسمه که یا تا پسي وژاړمه

څومره خوشحاله زندگی مي وه بدرنگه سوله

بنګ ملامت کمه که تاک پسي وژاړمه

سنګه دعشق څپو راړوبه کړل کښتۍ دمیني

ساحل ته وګورم که یا شارک پسي وژاړمه

دا ستا پر ورکو لارو ورک سعادت لا ورک ګرځیږي

بیتلون ته کینښمه که یا یار پسي وژاړمه

...

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**